www.Goftman-AFG.net
E-Mail: Goftman-Afg@net.net
گفتمان
نشریهٔ گفتمان ملی افغانستان
دافغانستان دملي خبرو اترو خپرونه

نویسنده: داکتر نصیر احمد زی

تاریخ:24 می 2024

د پښتو ژبې ورځ دې مبارکه وئ !




ژبه د خلکو تر منځ د اړیکو او تفاهم وسیله ده، چې له لارې یې د افکارو تبادله رامنځته کیږي. ژبه د کلتور یوه مهمه برخه ده چې د یوی جغرافیه د استوګنو هویت هم راځرګندوي. هیڅ ژبه د نورو ژبو په برتله غوره نه بلل کیږي او همدارنګه هیڅ ژبه تر نورو ژبو کمه نه ده. د یوی ژبې پراخوالی په دې پورې اړه لري چې ویونکي یې د هنر، ساینس او علم په ډګر کې د خپلې ژبې لپاره څونه کار کړې .

د ملګروملتونو سازمان، یونسکو هم د مورني ژبې پر اهمیت او دا چې لمړنیو زدکړې په مورني ژبه وي د یو منل شوي اصل په توګه منلی دی. دا ځکه چې په مورني ژبې لیک لوست ماشومانو ته دا فرصت ورکوي ترڅو ددوي تفکرې قوه غښتلې او موضوعات په ښه توګه جذب کړي چې ددې اصل په ساتلو سره دا په ډاګه کیږي چې دنن ورځې ماشومان چې د راتلونکي مستقبلین دی کولای شي یوه روښانه راتلونکې ولري .

دا په داسې حال کې چې ویل کیږي نن سبا، ٦٠ سلنه ماشومان د خپلې مورنۍ ژبې لیک لوست څخه محروم ساتل شوي چې دا د ماشومانو په جذب او تعلیمي نصاب کې خورا منفي اغیزې لرلی شئ .

د یادوني وړ ده چې اوسمهال ۷،۱۳۹ رسمي ژبې د نړۍ په ۱۹۵ پیژندل شوی هیوادونو کې شتون لرئ چې خلک پرې خبرې کوي.

***